مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالصبورساپی ۲۰۲۲/۰۱/۲۸

پاڅه له خوبه!

راځئ چې ورته ځیرشو
څنګه تېرېږي
دنن او سبا ورځې
دا غم لړلې
د رڼا ورځې
ټول به درته وائي
هره تیاري پسې روښنا راځي
دروغو مزل لنډ ده
رښتیا به خامخا راځي
راځئ چې ورته ځیرشو
دلته رڼا پسې
بېګا راځي،
له تیارومې زړه تورده
بس چې له کلونو
ظلم زورده
ماشوم په ګهواره کې
بې مورده
همدې ته مې ژړا راځي
راځئ چې ورته ځیرشو
دلته رڼا پسې
څه بلا راځي،
دا څه اور ده
دا څه شور ده
له پامیر تراشنغره
له آسمان ځمکې ترقعره
ټوله فضاده مُحقَّره
زوړ اوځوان پکې
نسکور
ښځه ماشوم بېزار
له کوره
پښتون همداسې
ویدهٔ پروت په تمه چې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښکلا راځي
راځئ چې ورته ځیرشو
دوی ته به لارښود کله
له عرشه د مولا راځي!
ای د سپین غرسپینو واورو
په سپینو سپینومو
خبره وم له دواړو
تیاري خورېږّي
د جهالت
کاڼي را ورېږي
په شنولمنو
د ذلت
نوردعلم او تبحرناري مونشته
نوردګل او دبلبل قصي مونشته
د منګي او د ستار
د ګدر مېلي مونشته
بد رنګه
افساني
له شاوخواراځي
ارزښتونه دي
یو بل پسي راپرځي
داسي فلاکت ته
اوښکی د هرچاراځي
په لولو به ویدۀ نه شي
معصوم زړګی
په درزا راځي
راځئ چې ورته زیرشو
عزت جنازې مو
شاپه شا راځي،
ای د توروغر تورو مارانو
غره مه شی د پنجاب په
مداریانو
که څه هم شپه ده
له تیاروسره
جاهلت ده ستاسو
زړوسره
سپوږمی درڼاخوند
دمئین زړوسره
دا لارې سره جلا دي
یوه ځي له بیدیا سره
بل د مینې د ښکلاسره
ستورې ګرځي په مدار
خویوبل سره پخلادي
لوېدلي دلته له مدار
پښتون او ژوند سره
جدا دي
دا تیارې به پاتې نشي
داشوکې به پاتې نشي
یوورځ به دحساب راځي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یوورځ به د عذاب راځي
راځئ چې ورته ځیرشو
په تمه ده صبور چې
د ظلمت به انتها راځي

عبدالصبورساپی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ